# . افغانان د ډاکتر اشرف غنی ولسمشری ته ضرورت لری/ پوهاند کاکړ

Saturday, 31 May 2014 12:47



- ځانګړي انتخابات ,مقالې

پوهاند محمد حسن کاکړ

- خپروونکي: تاند http://taand.com

د ۲۰۱۴ کال د می د میاشتی ۲۷

پوهاند محمد حسن کاکړ

زمونږ وطن افغانستان هم له غټو ستونزو سره مخ دی او هم د هیلی وړ تحول په کی محسوس دی. ستونزی دا دي چی حکومت په ځان متکی نه دی، خپل ټول عواید ټولولی نه شی، خپل قوانین تطبیق کولی نه شی، اداری فساد کنترولولی نه شی، او د عادی چارو داجرا دپاره هم باندنیو مالی مرستو ته اړ دی. د وطن پولی هم نامصئونی دی، له ډیرو هیوادونو سره روابط هم د داډ وړ نه دی، او یو ډول جنګ هم په کی روان دی. په دی حال کی پانګه په زیاد مقدار له وطن نه بیرون ته وړله کیږی. دا ټول سره له دی چی د امریکی حکومت د یو رسمی راپور له مخی د امارت له نسکوریدلو نه وروسته یوازی په ملکی ساحه کی یوسل–او–دری ملیارد دالر لګول شوی دی.

په عین حال کی افغانستان کی د هیلی وړ حرکت هم واقعیت لری. دولتی نظام قانونی دی او د انتخاباتو له لاری یو ډول ولسواکی په وطن کی چلیږی. د پوهنی او عامه روغتیا په ساحو کی پرمختګ هم شوی دی. اساسی دا ده چی په ملی سویه ویښتیا حس کیږی؛ په نوی نسل کی دغسی ځوانان او ځوانانی هسکی شوی دی چی له عصری تخنیکی وسیلو او عامه رسنیو نه پراخه استفاده کوي. ډیر یی په سیاسی کلتوری او مدنی ټولنو کی تنظیم شوی دي. په دی ډول په افغانستان کی یوه نوی متوسطه تعلیم کړی طبقه ټوکیدلی او اصلاحات غواړی. لا مهمه دا ده چه عامه افغانان ویښ شوی او له حکومت څخه قانونی چلند غواړی. دوی د انتخاباتو په لمړی پړاو کی له سختو شرایطو سره سره یی رأیی واچولی. څه موده د مخه د مشورتی لویی جرګی غړو نژدی په غوڅ اکثریت سره حکومت ته توصیه وکړه چی له امریکا سره امنیتی موافقه لاسلیک کړي. دغه موافقه تر اوسه لاسلیک شوی نه ده . دا د افغانستان په تاریخ کی د حیرانی وړ یوه بی ساری پیښه ده. خو د

ولسمشری آخری نوماندانو هم څرګنده کړی چی په ولسمشر کیدلو سره به یی لاسلیک کړی. خو ستونزی غټی او تحول یو نو حرکت دی. د لومړنی هوارول او د دوهمی پیاوړی کول د حکومت وظیفه ده. اوس چی د ولسمشر غوره کیدل د ټولټاکلو دوهم پړاو ته رسیدلی د رأی ورکوونکو وظیفه لا ډیره درنده شوی ده، په دی چی دوی یو چا ته اختیار ورکوی چی د پنځو کلو لپاره پری حکومت وکړی. دا هم غټ امتیاز او غټ مسئولیت دی، په تیره په اوسنی حال کی چی هیواد له ډیرو غټو ستونزو سره مخ دی. په دغه حال کی دغسی افغان ته ضرورت دی چی د ابتکاری فکر او د غوڅ عمل شخصیت ولری او د قانون پر بنسټ حکومت او چلند وکړی.

زما په فکر داکتر اشرف غنی د دغی ستری وظیفی لپاره ډیر مناسب شخص دی. زه دغه نظر په مسئولیت سره وړاندی کوم په دی چی زه هغه له نژدی څخه پیژنم. مونږ له ثور د کودتا نه د مخه په کابل پوهنتون کی استادی کوله. هغه وخت

ارواښاد پوهاند سید بهاوالدین مجروح، ارواښاد داکتر غلام غوث شجاعی، اشرف غنی او ما وخت په وخت سره لیدل؛ په علمی سیمینارو کی مو چی هغه وخت ډیر کیدل ګډون کاوه او په کورونو کی سره غونډیدلو؛ په درسی، علمی، او ملی موضوعاتو مو سره بحثونه کول. هغه وخت د کابل ښار آزاده هوا د مباحثو دپاره ښه مساعده وه. پوهاند مجروح د همدغسی ژوند له پاره والیتوب پریښود تر څو په پیښور کی د آزادی په لار کی شهید کړل شو. او داکتر شجاعی چی هغه هم د فلسفی یو با صلاحیته استاد وو د خلقی رژیم په اکسا کی له مینځ نه وړل شوی وو.

په همدغه وخت کی وو چه ما ښاغلی اشرف غنی له نژدی نه وپیژنده. په لنډ ډول دی ډیر قوی یاد لری او تل معقول او منطقی غږیږي. د قانون، اخلاقی اصولو او د دیسیپلین په چوکات کی د ننه ژوند کوی. د سقراط په شان آزادی په قانونی ژوند کی غواړی. له قانون ماتوونکی سره نه جوړیږی، پری باندی غصه کیږی هم. اوس چی ما دی د انتخاباتی مبارزو په تلویزیونی مناظرو کی ولید د پارونکو پوښتنو په وړاندی نه احساساتی کیده. د اشرف غنی دوه مخی توب او ښویه چلند زده نه دی.

رډ غږیږی، او ربښتیا وایی؛ او په خپلو اصولو دومره ټینګ ولاړ دی چی په اړه یی ټوکی هم نه خوښیږی. ډاکتر شجاعی د هغه مشر ورور د حقوقو پوهنځی استاد، ډاکتر احمدشاه غنی ته ویل چی دا ورور دی ډیر جدی دی او په ټوکو نه پوهیږی.

شجاعی د ادب په چوکاټ کی دننه دغسی غوریالی ټوکمار وو چی جوړه یی ما هیڅ نه ده لیدلی. په هر حال اشرف غنی بی ځایه او سپک نه غږیږی. هیڅ څوک نه شی ویلی چه ده به چاته ضرر رسولی وي. ده چی په اجتماعی ژوند کی هرڅه کړی د نورو د ښی د پاره کړی دي. دی خلکو ته له خدمت کولو سره خاصه علاقه لری. دا به لدی امله هم وی چی د ده لومړنی تخصص په انسان پیژندنه کی وو.

اوس خو دی د تاریخ، سیاست پوهنی، او اقتصاد عالم هم دی. د مالیی د وزیر، د کابل پوهنتون د سروال په توګه له دولتی چارو سره هم بلد شوی او د امنیتی ځواکونو د انتقال په بهیر کی په وطن کی ګرځیدلی او له خلکو سره آشنا شوی دی.

تر هغه د مخه ده د امریکی د جان هاپکینز په پوهنتون کی ښوونه کړی او په نړیوال بانک کی یی کلونه کلونه خدمت کړی. د همدغو خدمتونو او هم د علمی شخصیت له عمله وو چی دی هم د ملګرو ملتونو د او د نړیوال بانک د مشری د پاره په نظر کی نیول شوی وو. کومی اختصاصی ټولنی دی د نړی د متفکرینو په قطار کی هم نیولی وو.

اشرف غنی په داسی کورنی کی لوی شوی چی زیاتره غړو یی په خدمت کولو کی نوم ایستلی دی. نیکه یی فرقه مشر عبدالغنی خان وو، تربور یی جنرال شاپور احمدزوی وو چی په خلقی رژیم کی له مینځه وړل شوی. پلار یی ارواښاد شاه جهان احمدزوی، او یو تره یی ډاکتر عبدالقیوم کوچی دی چه په خلقی رژیم کی هم بندی شوی وو. مشر ورور یی ډاکتر احمدشاه غنی وو چی یو ډیر ټینګ ملی شخص، او زما دوست وو. کشر ورور یی حشمت غنی د قوم مشری کوی. ډاکتر اشرف غنی د پراخ نظر خاوند دی. ده د سولی د خوندی کولو په مقصد د ناکامو دولتونو ټینګولو په لار کی کار کړی او په دغه نامه یی د لاکهارت په ملګرتوب یو اثر لیکلی چه د آکسفورډ پوهنتون خپور کړی دی. په دغه نامه او په دغه مضمون ما کوم بل اثر لیدلی نه دی. د شوروی اتحاد له منحل کیدلو نه وروسته چی مخ په انکشاف هیوادونو کی ډیر دولتونه په خپلو اساسی وظیفو کی پاتی راغلی او نارامی ډیره شوی ده، دغه اثر بین المللی اهمیت پیدا کړی دی. په دغه اثر کی دغو لیکوالو، دولتونو او بین المللی موئسسو ته سپارښتنی وړاندی کړی او په کی دا هم ویلی چی (که زمونږ دغه بی ساری

نړیواله شتمنی پراخه کیږی هغه ته باید د ټولو لاس ورسیږی. مصئونیت باید د نظامی قوت په استعمال سره تضمین نه شی، که څه هم نظامی مداخله به یو وخت بل وخت ضروری وی. مصئونیت به په کاری دولتونو سره یقینی شی په کومو سره چی د سیاستونو او مرستو ناکامی په دغسی غبرگ تړون سره لاندی شی چی افراد، حکومتونه، او بین المللی عاملان د مسئولیتونو او وظایفو په ځالو کی سره ونښلوی).

اشرف غنی چی د نړی د ناکامو دولتونو د سمولو د پاره تجویزونه وړاندی کړی، د خپل هیواد د دولت په اړه به یی لا ډیر ژور فکر کړی وی چی د سرطان د کودتا نه را په دیخوا یو ناکام دولت دی. ده پنځه کاله د مخه د (عادلانه نظام لار) په نامه په یو بل کتاب کی د هغه یو عمومی انځور کښلی او په کی یی په مشخص ډول ویلی چی: (اصلی ستونزه په سرچینه کی ده. د دولت کابینه د سرچینی په توگه په دغه فساد ککړه ده).

بیا نو بیځایه نه ده چی د ده په وینا دغه (دولت د یو کمزوری، غله، او فاسد رژیم په نامه یادیږی). د دغه فاسد دولت اصلی قربانیان د افغانستان خلک دی چی تر اوسه هم د جنگ، نآرامی، بی عدالتی، او زیادتره د غریبی په حال کی ژوند کوی. سره له دی چی په تیرو دوولسو کلونو کی له افغانستان سره دومره ډیری مرستی شوی چی په ټول تاریخ کی دومره مرستی ورسره نه دی شوی .

اشرف غنی د ولسمشری یوازینی نوماند دی چی د موجودو ستونزو اصلی سرچینه تشخیص کړی او د اصلاح په اړه یی په مناظرو کی خپل نظرونه هم وړاندی کړی.

دا په واقع کی هغه څه دی چی افغانان یی غواړی. د ده د اصلاحی نظرونو او عالی شخصیت له عمله ده چی ده ته د یو ملی مشر په سترگه کتل کیږی او د ولسمشری چانس یی یقینی ښکاری خو چه ټولټاکنی دا ځل بی له درغلیو نه تر سره شی.

له اشرف غنی نه هیله کیږی چی د ولسمشر په توگه اول د فساد سرچینه اصلاح کړی. دا آسان کار نه دی خو ناممکن هم نه دی. موجود دولتی نظام د اجماع او د قانون له لاری په پښو درول شوی. خبره په چارواکو کی ده. ممکنه نه ده چه په موجودو چارواکو سره اصلاحات عملی او ستونزی همواری شی. حتمی ده چه د وزارتونو او د څانگو سروالان نوی وی او ټاکنی یی یوازی او یوازی د لیاقت، کار، اختصاصی پوهی، او په یوه کلمه د شخصیت له مخی وي، نه دی ژبی، مذهب، قومیت، سمت او خپلوی په بنسټ. دوی باید وطنپال او د لوړ ایدیال خاوندان او د تحول منونکی وی. اوس دغسی افغانان د ننه په وطن او د باندی کم نه دی؛ دا هم حتمی ده چی چارواکی د قانون له مخی چلند وکړی او هر یو چی بی قانونی کوی په هر مقام کی چی وی محکمی ته وسپارل شی. د انحصاری، ایدیالوژیکی، یو گوندی، او مصلحتی حکومتونو وخت تیر شوی دی. په اصل کی دغسی حکومتونه وو چی افغان دولت یی ناکام او بدنام کړ. که دغه ټکي جدی ونیول شی خلک به له حکومت نه راضی شوی، ملی پیوستون به ټینگ شوی وی، حکومتی عواید به ډیر شوي او حتی دغه ناولی جنگ به بی اثره شوی وی، دولت به پر ځان متکی شوی او حیثیت به یی لوړ شوی وي. په تیره هغه وخت چی دی له بین المللی موئسسو نه مرستی تر لاسه کړی. په دی برخه د ده چانس تر هر بل افغان نه ډیر دی. لنډه دا چی داکتر اشرف غنی دغسی شخصیت دی چی هم په اقتصادی چارو کی او هم د قانون له مخی د حکومت کولو او د ملی پیوستون په ټینگولو کی بنیادی کارونه کولای شی. افغانان اوس دغو ټولو ته سخت ضرورت لری. نو دا پر ځای ده چی وویل شی چی افغانان د داکتر اشرف غنی ولسمشری ته ضرورت لری.